# د پښتو شاعرۍ ائينې

رحمت شاه سائل

زمونږ پښتو شاعرۍ زرګونه کاله مونږ د ګوتې نيولې د خپل وطن په ورانو استانو او سرحدونو ګرځولي يو او زمونږ د قام او اولس د زرګونو کالو د ژوند ژواک، تاريخ، تهذيب او تمدن تصويرونه يې زمونږ د زړونو په دېوالونو لګولي دي .زمونږ شاعري زمونږ د مخونو ليدو ائينې وې، څۀ مو چورې چورې ماتې کړې، اوس پکښې خپلې سترګې ماتې ماتې وينو او څۀ مو پړمخې نسکورې کړې، اوس چې يې راپورته کړو، پکښې ړاندۀ ړاندۀ ښکارو، غواړم چې دغه ماتې ماتې ائينې راټولې کړو او ړندې ائينې صفا کړو او دغه اواز واورو چې:

يو ځلې بيا په دې لار راشه
په پخوانو پلونو دې پرېواتۀ ګردونه

راځئ چې د خپلو تخليق کارانو د تخليقي ګلابو نه دوړې څنډ وهو، د شبنم په قطرو او د خپل اسمان د نمر په پلوشو يې ووينځو.



## مرزا خان انصاري د فکر و نظر خاوند شاعر (دويم قسط)

د خزان د لمبو تاؤ تر عالم اوخت
دريغه دريغه د بهار سرۀ شبنمه

لور په لوري اند ېښني په زړۀ څرخيږي
څوک خبر نه دي د فکر د مرهمه

مرزاخان انصاري

په " مرزا غالب او نظريه وحدت الوجود" نومې مقاله کښې علي عباس جلال پوري وائي چې د وحدت الوجود يا همه اوست د تاريخي او ارتقائي جائزے اخستو نه مخښکې دې طرفته ته توجه ورکول ضروري دي ، چې د " سريان "تصور د ابتداء نه د آريائي قومونو د فکر و نظر نه اخستې شوي تصورات او تصويرونه دي .بې شکه چې د قديم يونان ، هند او ايران پوهانو په خپل خپل رنګ کښې د خدائے په هستۍ او سريان محکمې عقيدې لرلي دي .په نورو الفاظو کښې د هغوي منشاء دا وه .چې د واحد خدائے هستي د کائنات نه جدا نه ده.

د" سريان "مطلب هم دا دے، چې خدائے په کائنات کښې جاري او ساري دے .بلکې په کائنات کښې هر ځائے د ازل نه موجود دے .او تر ابده به موجود وي .ددې الهياتو په ځنګ ځنګ کښې په زوړ (قديم) ايران کښې د اشراق تصور هم په تذکرو کښې راځي .چې شيخ سهروردي مقتول په حکمتوالشراق کښې د فرشاد سپ او جامه سپ ذکر کړے دے .ايراني اشراقينو به وئيل چې د ترکيباتو اصول ، انوار مجرّه دي .پاک يزدان نور الانوار دے. مجرَده نورونه ، ددغې نورالانوار او مادي کائنات تر مينځه ضروري واسطې دي .چې په واسطه ئې مادي څيزونه د عالمو وجود ته ځي راځي. نورالانوار وجود بالذات دے .او مادي کائنات نمود

بې بود .د هغوي په خيال دا چې په کائنات کښې څومره مظاهر دي .د نورالانوار رڼاګانې او پلوشې دي .او د کثرت د اعتباره وجود د حقيقي وحدت نه دے .کائنات د مطلق هستۍ پرتو ګڼل دي .او د اصل نه بغير د پرتو وجود قائم نه شي پاتې کېدے. د هندوانو سرياني افکار د اپنشد په کتابونو کښې په منتشر صورت کښې موجود دي.

شنکر د ويدانت سوتر تشريح د وحدت الوجود په رنګ کښې کړے او ورته ئې منطقي ربط او تسلسل ښښلے دے .د" سريان "او" احديت" تصورات په ابتدائي صورت کښې په" رګ ويد" کښې هم پېدا کېږي .چې په هغې کښې وائي .چې يو رڼا ده (اګني) ، چې ډېر ځايونه ئې رڼا کړي دي .يوه سوريه (ستورے) ده چې په هر ځائے او ټولو پرقېږي راپرقېږي .يوه اوشا ده چې دا ټول ئې د خپلې رڼا په غېږ کښې نيولي دي .د احديت مطلب دے د کائنات د مظاهرو تو جهيه ، د يو اصل اوصول سره کول .

دغسې په دې موضوعاتو د صوفي ازم سره تعلق لرونکو پوهانو ډېر څه وئيلي او ډېر څه ئې ليکلي دي .ابن عربي ددې سلسلې يوه مشهوره او معقوله هستي ده .هغه د علم د درې قسمونو خودنه کړې ده .علم العقل، علم الاحوال او علم الاسرار .د احقاق حق دپاره هغه علم الاحوال ته په علم الاعقل فوقيت ورکوي .هغه علم الاحوال ، وهبي او پيدائشي ګڼي .او علم الاعقل کسبي .کوم چې د څيزونو جرړو ته درسېدو نه قاصره وي .د ابن عربي تعليمات د تصوف په دنيا کښې ډېر مقبوليت لري.

غالب په نثر او نظم دواړو کښې ځائے په ځائے د موحد يا وجودي دعوی 'کړې ده.

هم موحد هيں همارا کيش هے ترک رسوم
ملّتيں جب مٹ گئيں اجزائے ايمان هوگئيں

مونږ په دې بحث کښې د وحدت الوجود د نظرئې او تاريخ نه شائد چې څه نه څه خبر شو .وحدت الشهود څه وي په دې حقله هم د علي عباس جلال پوري په دې مقاله کښې په 44 مونږ ته څه نه څه دلائل په ګوته کوي .په د ې حقله هم هغه د مرزا غالب د يوشعر په حقله وائي .چې :

رهے غيب غيب جس کو سمجهتے هيں هم شهود
هيں خواب ميں هنوز، جو جاگے هيں خواب ميں

د شهود معنی 'ده د صوفي په کائنات کښې هر چرته د خدائے جلوه ليدل .په دې حقله غالب په پورته شعر کښې وائي .څه ته چې خلق شهود وائي .هغه خو غيب غيب دے .فرض کړو يو سړے په اودو کښې خوب ويني، چې هغه ويخ دے .هغه به بې شکه په خپل يقين کښې ويخ وي .ولې هغه په حقيقت کښې وده دے .دغسې دا هم زمونږ يو وهم دے چې ذات باري تعالی 'په عالم کښې جلوه ګر دے .په اصل کښې ددغې جرړو ته زمونږ د فهم او فکر رسائي نه ده شوے .هغه يوازے غيب نه دے بلکې غيب غيب دے .په دې ضمن کښې هغه مخکښې وائي.

اصل شهود و شاهد و مشهود ايک هيں
حيران هوں پهر مشاهده هے کس حساب ميں

د شهود معنی 'ده ظاهرېدل، شاهد" کتونکے "او مشهود کوم چې ظاهر وي .کله چې دا درې واړه يو دي نو د مشاهدې مطلب څه شو؟ مطلب يا حاصل دا چې خلق ددې خبرې مدعيان دي .چې هغه په کائنات کښې د حق تعالی 'د تجلو مشاهده کوي .خو دوي د نظر په فريب کښې مبتلا دي.

نه تها کچه تو خدا تها نه هوتا تو خدا تها
ډبويا مجه کو هونے نے نه هوتا ميں تو کيا هوتا

کـله چې روح د ذات د تنه جدا شوې نه ؤ .نو د خدائے د ذات جُز ؤ .کـه چـرې د هغه بېلتون د خدائے نه نه وے شوے .نو دې به خدائے پاتے کېدو .ځکه نو د هغه عالم وجـود تـه راتـلـل گویا د یزدانیت نه انفرادیت طرف ته تنزل ؤ .او ژړا هم ددې خبرې ده .دا د فـصل مضمون دے .د جذب ذکر داسې کوي :

عشـرت قـطـره هے دریا میں فنا هو جانا
درد کـا حـد سے گـزرنـا هے دوا هـو جانا

کـومـه قـطره چې د سمندر نه جدا شوې ده .دوباره په سـمندر کښې جذب شوه .او د خپـل مقصد سره غاړه غتې شوه .او د خوشحالۍ نه ډکه پکه شوه .د جدائې هغه درد چې د حد نه زیات شو .نو د وصال دوا تر جوړه شوه .دلتـه د قطرې نه مطلب د انسان روح او د سمندر نه مراد ذات باري تعالیٰ دے.

شـکـن زلف عنبریں کیوں هے نگهٔ چشم، سرمه کیا هے
لالـه و گـل کهاں سے آئے هیں ابر کیا هے هوا کیا هے

نـظـاره کیـا حـریف هـوا اس بـرق حسـن کـا
جـوش بهـار جـلـوے کـو جـس کـے نـقـاب هے

دا هغې رڼا د جلوؤ تماشه به څوک څنگه کوي .چې د بهار د جوش جلوې د هغې نه لکه د نقاب چاپېره وي .

کهـه سـکـے کون که یه جلوه گري کس کی هے
پـــــرده چهوړا وه اس نے کـــــه اُٹهائے نه بنے

دا به څوک څنگه معلوموي چې دا جلوه گري د چا ده .د کـوم حُسن نه چې داسې پرده تاؤ ده .چې په لرې کولو ترې هم نه لرې کېږي .

نـــامـــئے نـگـــاه هے بـرق نـظــاره سـوز
تـو وه نهیں جـو تـجـهـ کو تماشه کرے کوئی

د سـتـرگـو دپـاره ستا تماشه د سوز د داسې رڼاگانو په شـا ده چې سرے په دې وئیلو او منلو مجبور شي، چې اووائـي تـه هـغه نه ئې چې څوک به دې د تماشې تاب ولري،،

ضـروري وه، چې د روښـاني تحریک نه پېدا شـوي پښتـو ادبـي اثـارو د فـکـر ونظر دپـاره او پـه خـصوصیت سره د صوفي ازم پس منظر چې په څه نه څـه طـریقه مخې ته راشي .چې د روښـاني تحریک د افکارو په پېژندنه کښې مونږ د هغه وخت د چارچاپېره د پېـدا شـوي رجحان د تاریخي او روحاني پس منظر د لـرې نـزدې نه هم خبر شو .او د صـوفي ازم ، علمي او روحاني تندې چې کوم علمي ماحول لرلے دے .د هغې سره د صوفي ازم د روحاني پرمختگ دپاره چې د کوم بـاریک نـقطـهٔ نظر ضرورت ؤ، د هغې دپاره فلسفیانه سـوالـونه ، جوابونه او منتقي استدلال هم ضروري ؤ. ولې چې د دغـه ټـولـو بـاریکو او پېچیده علمونو نه د هغه وخت ځنې اهمو سکولونو ډېرې استفادې هم کړې وې .

مـرزا خـان انـصـاري یـوازې یو عام شاعر نه دے .د پښتـو ژبې دویـم صـاحب دیوان شاعر دے .او داسې بـــه اوایـــو چې دا د پښتـو شـعـر اولـنۍ داسې سـرچینـــه ده، چې زمـونږ د ژبې سـره وابستـه ټول راتونکي دورونه ئې سېراب کړي دي .دغه رنگ مرزا خـان انـصـاري زمونږ دپاره په نورو ډېرو حواله هم ډېر اهمیت لري .

پیـر روښـان چې یـوازے د مرزا خان انصاري نیـکه نه دے، د هغه پیر او مُرشد هم دے .د" روښان" شـخـصـیت ، ژوند او فکر و نظر ډېر اړخونه لري .هغه پـه داسې وخت کښې ، چې د پښتون قام ډېرې برخې د مُـغـلـو پـه غلامۍ کښې وې .ددغې غـلامۍ خلاف مـنـظم جدوجهد او د پښتو ژبې دپاره د هغه خدمات او

هـلې ځـلې په عملي طور د پښتون او پښتو قسمتونه پــه اول ځل راویخ کړي دي .مثلاً د پښتــو دا موجوده رسـم الـخـط چې اول دیـوناګري یا برهمي رسم الخط کښې ؤ .او د ګـس نـه ځئي طرف ته لیکلے کېدو .په تـاریخي پس منظر کښې ، د محمود غزنوي د دربار نه د هغـه د دربـاري شـاعـر او وزیـر ابوالافتح له خوا په پښتـو رسـم الخط اتلسمه حمله وشوه .د پښتو ځنې آوازونـه په دې رسم الخط کښې نه وؤ .یا پکښې نه ځائېده .پـه دې وجـه د پښتـو نظمیه ډېر اثار ناپکاره شو .او د نـظـمیـه ژبې چې کوم اثر وي او وؤ، هغه په هـغـه وخت له مینځه لاړو .دغسې چې د دربـار کومه ژبه وه .هغې هم ډېر نقصان ور ورسوؤ .او زمونږ ادبي تـاریـخ چې اوس پـه کوم ځـائے ولاړ دے .د هـغې نه مخکښې لا نه ړو .یعني د دولس یا دیارلس سوؤ کالو نـه پس پیر روښان تقریباً په اولسمه پېړۍ کښې د پ ټ ج -د -ړ -ژ -ګ او د لهجو فرق دپاره ئې ، څ -ځ- ږ -ښ -ڼ توري وضع کړل .او پښتـو ژبه ئې واپس د پرمخنګ په لور روانه کړه .د مرزا خان انصاري دیوان هم ددغو تورو په آوازونو ښائسته دے .

ددې سره سره چې د کلان په غزا کښې چې په 989 هـجرۍ کښې شوې وه .د مـرزا خـان انصاري پلار نورالدین پکښې شهید شوې وؤ .جلال الدین په 995هـجـرۍ کښې تیـراه تـه راغلے ؤ .اکبـر بـاچا د اپـریـدو د تـلـو راتـلـو ټولې لارې بندې کړې وې .او اپـریـدو نه ئې د جلال الدین غوښتنه کړې وه .او ورته ئې وئیـلـي وو چې یائې د تیراه نه بهر کړئ .او یا ئې مـونږ لـه لاس تړلے راکړئ .او دا ئې بـل شرط ؤ چې مـونږ لـه ددې کـورنۍ درې تـنـه د یرغمال پـه طور راکړئ .د اپریدو او اورکزو په جرګه کښې چې د دوي د کـورنۍ نه احدا، د جلال ادین مور او د مرزا خان مور زلېخا د یرغمال په طور ورکړي .زلېخا جلال الدین ته فـریـاد کـوي چې زما زوے وړوکے دے .د شپږو کـالو دے .مـا د خپله لاسه مغلو ته مه ورکوه .خو سکشته جلال الدین دغه فېصله بدله نه کړې شوه.

بیا جلال الدین بلخ ته لاړو او د جلال مور بي بي شمسو وړوکے مرزا خان او د جلال الدین ټبر د تیراه نه اواته .کـلـه خـوست، کله باجوړ، کله قندهار او کله بـنګشـو ته لاړه راغله خو هیچرته ئې ټیکونه پیدا نه کړه .او بیا تیراه ته راغله.

جـلال الـدین په 1012 هــ کښې پـه غزني کښې شهید شو .احـداد د روښـانیانو خلافت تر لاسه کړو .مرزا خان او الحداد چې کله لوئے شول .نو د احداد سـره د مـغـلـو خلاف په جنګونو کښې شریک شول. ددغسې حـالاتو په غېږ کښې لوئے شوے زمونږ شاعر مـرزا خان انصاري، چې په دغه عمر کښې څه لیدل .دا به د هغه نه هېر نه وؤ .ځکه چې دا عامه تجربه ده چې د وړوکوالي خبرې د چانه نه هېرېږي.

ممکنه ده چې زما سره څوک اتفاق ونه کړي. خو د صوفي ازم په حقله چې زما کومه ناقصه مطالعه ده، په هغې کښې ددې قسمه تحریک تصور ډېر کم په ګوتو راځي .د پیر روښان او د هغه د تحریک نه د پېدا شوي ادبي سرچینې رنګ او شکل او کړه وړه، د بل هر تـحـریک نه بدل او بل شان دي .دا کـه یـو طرف ته د غلامۍ خلاف یو قومي تحریک دے .نو بل طرف ته د پښتنو د کردار سازۍ اولنۍ داسې ذریعه هم ده، چې د رحمان بابا په قول.

چې مـنکــر پرې اعتراض کـولې نه شي
دا دې شـعــر دے اے رحـمـانـه که اعجاز

د روس څېړنکار اوستاد اسلانوف ، دغې تحریک ته د بزګرو تحریک هم ئیلے دے .مونږ بائد چې د پښتنو د ژونـد ژواک ددغې مـرحلې نه او تاریخي حقیقتونو نه هم دغه تحریک راونه شوکوؤ .د پیر روښان تحریک

د مُغل حکمرانانو خلاف دے او که نه دے؟ نو سوال دا دے چې مغل ددغې تحریک جرړو پرېکولو ته ولې ور اړم شوے دے .ددې سره سره کــه مونږ د استاد "اسلانوف "خبره درسته هم ومنو، چې دغه تحریک د بزګرو تحریک وه .نو دا ځکه چې دغه وخت ټولو پښتنو په یو قبیلوي دور کښې ژوند کوؤ .او د ژوند ژواک دارومدار ئې بېخي په بزګرئ. خو وو هم .خو بزګري چې په کومو معنو کښې استاد اسلانوف ددغې تحریک نه راوستل او ثابتول غواړي .دا د تاریخي حقیقتونو نه ماته لرے خبره ښکاري .د روسي سوشلزم په زمانه کښې اګر چې قومي تحریکونه هغوي دوستان تحریکونو ګڼي .ولې هغوي په قومي تحریکونو د پرېشر غورزوو دپاره ددغسې تحریکونو نه هم د هغه کوچو پېدا کولو کوشش کړے دے .کوم چې ترې نه پېدا کېده.

زما په ذهن کښې اوس هم هغه سوال دے چې په خپله بایزید انصاري (پیر روښان) هم چې څه وائي نو د خپل تحریک د پروپګنډې دپاره ئې نه وائي او نه لیکي .دغسې که د دغې تحریک نور لیکونکي او د قلم خاوندان دي ، د هغوي نه هم دغه تقاضه کوي. داسې ښکاري چې د هغوي ټولو مقصد د غلامۍ خلاف جدوجهد هم دے او د دین د لارې سره سره د ټولنیز ژوند د لوړو اصولو او اخلاقي کردار په حواله د هغوي کردار سازي هم کوي.

د مرزا خان انصاري په حقله علي محمد مخلص په حالنامه کښې لیکي، چې په دې فقیر ئې د حد نه زیاته مهرباني او شفقت کوؤ .د ذات په معرفت او د توحید په علم کښې، فقیر دده نه ګټه پورته کړې ده .د مرزا خان انصاري د ظاهري او باطني علم په باره کښې مخکښې وائي.

هغه د چراغ نور ، د ضرورت مطابق په ظاهري علم ډېر ښه پوهېدو .هغه ولي او د باطني علم سمندر ؤ .د هغه کلام د حال ښکاره شاهد دے .هغه د حقائقو د علم خزانه وه .او بغیر د څه حسد او کبر نه د دین پهلوان ؤ .هغه ته په فُقر فخر حاصل ؤ .نه په مال نه په منصب، او نه په لښکر .هغه د نظر خاوند او د لوئے همت سختن ؤ .د دواړو جهانونو نه بې نیازه ؤ.

د مرزا خان انصاري د دیوان د مقدمې په دې برخه کښې د علي محمد ملخص دا دوه خبرې چې، هغه د چراغ نور او د ضرورت مطابق په ظاهري علم ډېر ښه پوهېدو .او بله دا خبره چې هغه د دواړو جهانونو نه بې نیازه ؤ .په صوفي ازم کښې مونږ ته د ظاهر او باطن علم په حواله ډېرې خبرې مخې ته راځي او راغلي دي .خو په ځنې معنو کښې د پیر روښان د تحریک په خلقو کښې د ظاهر پوهه هم موجوده ده او د باطن هم .که د ظاهر نه مطلب ټولنیز حقیقیت نه وي .نو بیا د پیر روښان د تحریک، حقیقت به تش یو خیال وي .او تش خیال د جدوجهد دغه شکل نه شي لرلے .بیا چې لکه د نورو صوفیانو هغه دنیا ترک کړې وي .د دواړو جهانونو نه په دغه معنو کښې د بې نیازۍ خبره دده په حواله چې دده یو پاللے سړے کوي. نو هسې نه ئې نه کوي .او بله داده چې د خود دارۍ او خدائے د رضا په حق کښې د دواړو جهانونو نه بې نیازي شائد چې د هر چا د وس خبره نه وي.دولت لواڼے دده په حقله وائي.

مرزا خان د نورالدین صفت به څو کړم
میان روښان د پوهې ښار، او دې ئې ور ؤ

د هادي په زړه چې پټ ؤ په څو کاله
د مرزا خوله د هغه علم مظهر ؤ

دولت وائي چې زه به د هغه څومره صفت وکړم .خو لنډه دا چې میاں روښان (پیر روښان) د پوهې ښار او دے ئې ور ؤ .د پوهې دغې ښار ته به په دې ور ورننوتل وؤ .او کومه پوهه چې زمونږ نه په کلونو کلونو پټه وه .د مرزا خوله د هغې مکمل اظهار ؤ.

د پیر روښان (د خیرالبیان) او د خپل ظاهري او باطني، فکري او روحاني استاد، پیر روښان په حقله چې هغه څه وائي .دا نمونه به ترې راواخلو چې ، مرزا خان انصاري وائي :

زه هر څو چې د عادت په رسم تللم
د تحقیق تر فهم نه اورسېدلم

راهنما ئې له یو لوري راپیدا شو
دے دلسوز په ناپوهۍ اوپوهولم

د ګمان له علتونو ئې فارغ کړم
د یقین په پرهېزونو ئې ساتلم

د معنی 'قوت مې هسې مدد بیاموند
په یوه نفس کښې قاف تر قافه زغلم

چې دا هسې زورور اختیار مې خپل شه
همېشه په پاکیزه ملکونو ملم

نمـ1

د مرزا خان دیوان -مرتب :دوست شینوارے

د مرزا خان انصاري دغه د شعرونه نمونه چې د خپل فکري او روحاني استاد او پیر نه ئې د فیض د حصول په باره کښې وئیلي دي .دا کـه د یو ساعت دپاره د تصوفي اغراض و مقاصد نه راوشوکوؤ .او د فیض رسان او فیض حاصلونکي شخصیتونه یو بل تـه مخامخ کړو او د فیض اخستونکي دغه اقرار نامه واؤروو .نو دغه شخصیتونه به راته څنګه او څومره په یو پښتون تصوف کښې لېدے شي .او بیا د فیض رسان نه د فیض اخستونکي اثرات به زمونږ په احساساتو څه وي .ځکه چې په دې شعرونو کښې چې د خیال کوم پرواز دے .په هغې کښې د شاعرانه حُسن سره سره د روحاني وجدان او ټولنیز ادراک هغه بڅرکي هم دي .کوم چې د یو نه یو او د بل نه بل ته د یو اور لګولو سبب کېدے شي .او دې تـه مونږ د روحاني ادراک سره سره قومي اولسي او ټولنیز ادراک هم وئیلے شو .په ناپوهۍ پوهه، یوه عامه خبره ده. خو دې دلسوز په ناپوهۍ او پوهوولم .دا داسې ستائینه او اعتراف دے .چې ځنې باریک بینو له ئې هم که چل ورځي نو ژبه به ئې نه ورځي.

دا استاذي او شاګردي زما په خیال ډېره نوے ده چې :

د ګمان د علتونو ئې فارغ کړم
د یقین په پرهېزونو ئې ساتلم

په دے کښې څومره خصوصیت او نیازبین توب دے. خو په اقرار او اعتراف کښې څومره حقیقي معصومیت دے .د مرزا خان انصاري د فن او فکر و نظر عمومي رنګ تصوف دے .او په تصوف کښې د وحدت الوجود د نظرئے مدعي دے.

که ته نیشت شې هست به مومې
که سائل ئې دا جواب دے

مرزا ډېر وائي په لږ کښې
ډېر په لږ کښې انتخاب دے

د شته کولو د پاره ځان نشت کول .او د ذات باري تالی' نه د انسان یا د مخلوق ذات بلېدل او بیا د هغې ذات برخه جوړېدل .چې په دا مینځ مینځ کښې کوم مقامات دي .دا ډېر باریک هم دي او پیچیده هم .کله کله ددې په بیان کښې ابهام پېدا شي .او کله کله تضادات هم .خو ددې ټولو مسئلو د حل دپاره د اسرار و رموز علم او عرفان ، دغه هر څه په یو کنټرول کښې هم ساتلي دي .او یو میزان ئې هم ورله مقرر کړې دے .خو ددې باوجود چې د ژوند کومه هنګامه موجوده ده .دا لارې د هغې نه نظر اړول دي .او که په دغو هنګامو کښې شرکت دے؟ مرزا غالب یوه آرزو کوي؟

یہ پری چہرہ لوگ کیسے ہیں
غمزہ و عشوہ و ادا کیا ہے؟

جب کہ تجھ بن نہیں کوئي موجود
پھر یہ ہنگامہ یا خدا کیا ہے؟

ابن عربي په" فتوحات مکیه "کښې د علم درې قسمونه بیانوي .علم العقل، علم الا حوال او علم الاسرار .د احقاق حق دپاره علم الاحوال د علم العقل نه زیات د کار شے ګڼي .او وائي چې علم الاحوال وهبي یعني خداداد وي .او علم العقل کسبي وي .او د څیزونو جرړو ته درسائۍ نه عاجز ه دے .د ابن عربي تعلیمات د تصوف په دنیا کښې ډېر مقبولیت لري. چې د هغوي نه مولوي جلال الدین رومي ، ابن العارض او عراقي هم فیض یاب شو .او په شعرونو کښې ئې دغه تصورات په پُر جوش انداز کښې پېش کول شروع کړل .حکیم سینائي او شیخ عطار د مخکښې نه د ضوفیانه شاعرۍ آغاز کړې وۀ.

شاعري چې کله د تصوف ژبه جوړه شوه .نو په کور کور کښې د وحدت الوجود نغاره وغګېده .خو ددغو خلقو د مشکلو تحریرونو نه بیا هم خلقو ډېره استفاده نه شوه کولې .کله چې شاعرانو د مجاز په پېرایه کښې د حقیقي عشق راګ وچېړو نو د ګلاس او سرائۍ او لب و رخسار په پرده کښې د فنا او بقا ، تعِین او تنزل خبرې وشوې .او دا موسیقۍ ته راغلې. نو د خلقو زړونو او روحونو ته ورسېدې .او یو رجحان پېدا شو. اګر چې مرزا خان انصاري وائي چې :

اے مرزا د عامه خاصه اشنائي کا
و هر چاته د خپل یار خبرې وایه

دغسې دا خیال رحمان بابا هم داسې پېش کړے دے :

ما و هر چاته دے ستا صفت ستائیلے
هسې نه چې مې په کُل جهان رسوا کړے

ددغسې رجحان او د نتیجې په طور خلقو د راتلو خواهش، هغوي په دوۀ مجبورو د خلقو نه څه نه څه لري هم پاتې شوي دي.یوه وجه شائد دا وه چې ددې مضمون ژبه ددې مضمون په شان مشکله او د اسرار و رموز ژبه وه .دا که دوي د خلقو د ژبې تابع کولې، نو یو به ترې د اسرار و رموز محتاطه لاره د لاسه وتله. او لکه څنګه چې ترې په ځینو وختونو کښې وتې هم ده .نو ځکه دا د عامو خلقو ژبه نه وه .او دویم د مقاماتو کتونکے شخصیت به د خلقو نه مجبوراً په یوه فاصله کښې ؤ .او دې فاصلې دده رنګ ډول هم د نورو خلقو نه بل شان کړے دے .هلته د اسرار و رموز نه وتے جنون د منصور په شکل کښې او بل خوا د خلقو نه د فاصلې نه ساتلو تصویر د ابراهیم ابن ادهم او رابعه بصري په شکل کښې د خلقو مخې ته راغلے دے .په دې وجه ځنې صوفیانو د ځنې شاګردانو او مریدانو نه بیل تعلیم هغوي ته ورکړے دے .چې دې ته ئې پټ یا راز دارانه علم وئیلے دے .او ځنو وئیلي دي چې که دغسې یا هغسې وشي .نو ددې فکر ټول نظام په درهم برهم شي.

په ګمان هست ئې په هستۍ مست ئې
دانش دې نشته عقل دې اوم دے

عقل به څه کړے چې ویخ ئې نه کړے
وجود دے غوړ دے په ساړه موم دے

په معنیٰ یو شه دویم به څه کړے
دوئي بلا ده شرکت ئې شوم دے

په دې شعرونو کښې چې کوم د هست رد دے .دغه، هغه په ګمان رد کړے دے .او وائي چې دا دانش او دانائي نه ده .د ګمان په هستۍ مستي د اوم عقل نښه ده .دے، عقل نه رد کوي .خو پخلے ورله د یقین غواړي .او د یو کېدو ترکیب .او د دوئۍ د شوم توب خبره که هر څو عام فهمه هم ده .خو د اشارو او کنایو ژبه هم ضرور ده .مرزا خان انصاري نسبتاً، ډېرې پېچلې او فلسفیانه خبرې نه کوي .ځکه چې دے نسبتاً خلقو او د خلقو ژبې ته نزدے دے .او دے په هر حال کښې وحشت او جبلت ته یوه نه یوه رسۍ اچول غواړي. (نوربیا)